ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY

# اباديٍ
پنځلس ورځنۍ

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت پنځلس ورځنۍ

ګڼه: ۱۶ | مسلسل نمبر: ۱۵۴

چهارشنبه، جمادی الأولی ۹، ۱۴۴۸هـ. ق کال

## په هېواد کې د توکو د نرخونو او کيفيت پر کنټرول ټينګار وشو



۲مه صفحه

## د اړمنو هېوادوالو د لاسنيوي ځانګړې اوونۍ ونمانځل شوه



۳مه صفحه

## د پېښو د خطرونو کمولو نړيواله ورځ ونمانځل شوه



۳مه صفحه



## سرليکنه

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ کال د ميزان مياشتې په ۲۱مه نېټه په پېښو د خطرونو کمولو نړيوالې ورځې په نمانځغونډه کې ګډون وکړ. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال وويل چې تېر کال افغانستان د طبيعي پېښو او اقليمي بدلونونو لکه زلزلو، موسمي سيلابونو او وچکاليو له امله له سخت ټولنيز او اقتصادي زيان سره مخ شو او د زېربناوو د تخريب ترڅنګ يې خلکو ته زيات ځاني او مالي زيانونه اړولي. په اوسمهال کې اقليمي بدلون نه يوازې د افغانستان بلکې د نړۍ د مهمو چاپيريالي ستونزو څخه دی. د اقليمي بدلونونو له امله د انسانانو له ژوند څخه نيولې بيا تر اقتصاد، کرنې، اوبو او طبيعي سرچينو پورې ټول اغېزمن شوي دي. د اقليم بدلون د تودخې پر لوړېدو، د بارانونو د بڼې او شکل په بدلېدو، وچکالۍ، سيلابونو او دې ته د ورته نورو طبيعي پېښو د زياتوالي لامل شوی دی. په تېرو څو کالو کې وچکالۍ، په بېلا بېلو ولايتونو او سيمو کې د سيلابونو راوتل او د رامنځته شويو زلزلو له امله نه يوازې هېوادوالو ته درانه مالي او ځاني زيانونه واوښتل، بلکې ترڅنګ يې د هېواد ځينې زيربناوې هم ويجاړې شوې دي. دا په داسې حال کې ده چې افغانستان په نړيواله کچه د اقليم په بدلون کې هيڅ ډول ونډه نه لري، مګر له دې امله رامنځته شوې ستونزې ګالي. د پېښو د خطرونو کمولو نړيوالې ورځې په نمانځغونډه کې محترم ملا صاحب دې ټکي ته په اشاره وويل، افغانستان د شين کوريزو ګازونو په خپرولو او د نړيوال اقليم په تخريب کې هېڅ ونډه نه ده اخيستې، خو د نړۍ او په ځانګړې توګه د لويو صنعتي او توليدي هېوادونو د شين کوريزو ګازونو له خپرولو څخه په مسلسله توګه متضرر شوی دی. افغانستان تر دې مهاله د صنعت سکټور هغې کچې ته نه دی رسيدلی چې پر اقليمي بدلون دې اغېزه وکړي. يا دې هم شين کوريز ګازونه فضا ته ازاد کړي. ولې اوسمهال دغه هېواد د هغو لسو هېوادونو په کتار کې راځي چې د اقليم بدلون له امله ډېر زيانمنېدونکي دي. سره له دې چې اسلامي امارت د چاپېريال خوندي ساتلو له پاره خپلې هلې ځلې جاري ساتلي دي. د ځنګلونو بيا احيا، د طبيعي سرچينو لکه د اوبو سم مديريت ته يې مخه کړې او د طبيعي پېښو پر وړاندې يې چمتوالی نيولی، خو سره له دې هم د چاپېريالي او اقليمي بدلون له امله د راولاړو شويو ستونزو له امله په بېلا بېلو سکټورونو کې ستونزې رامنځته شوې دي. دا هغه څه دي چې کولای شي پر اقتصادي پرمختګ ناوړه اغېزه وکړي. نو په کار داده چې نړيواله ټولنه په دې برخه کې له افغانستان سره مرسته وکړي. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال هم دې خبرې ته اشاره کړې او ويلي يې دي، چې د طبيعي پېښو او اقليمي بدلونونو د زيانونو د کمولو په موخه لازمه ده، چې افغانستان نړيوالو مالي او تخنيکي مرستو ته عادلانه لاسرسی ولري او دا يې حق دی. که چېرې نړيواله ټولنه په دې برخه کې مرسته وکړي، نو بيا د دې امکان شته چې که د اقليمي بدلون څخه راولاړې شوې ستونزې په بشپړ ډول له منځه ولاړې نه شي نو تر ډېره بريده به هوارې شي. دا بيا خپله د دې امکان برابروي چې هېوادوال نه يوازې له مالي او ځاني زيانونو څخه خوندي پاتې شي، بلکې پر مټ به يې اقتصادي برخه کې هم پرمختګونه رامنځته شي.

ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY
د اقتصـــادي او ټولنيــــزو مسايلـــو په بـــرخه کـــې
د رياســـت الـــوزراء اقتصـــادي معاونيت پنځلــس ورځنۍ
اباډي
پنځلــس ورځنــۍ

## په هېواد کې د توکو د نرخونو او کيفيت پر کنټرول ټينګار وشو



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرســتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون ځانګړې غونډه (سه‌شنبه)، د ۱۴۰۵ کال د ميزان مياشتې په ۲۸مه نېټه، په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شــوه. په غونډه کې په هېواد کې د توکو د نرخونو او کيفيت پر کنټرول مفصل بحث وشو. د موضوع له هراړخيزې ارزونې وروســته پرېکړه وشوه، چې په ولايتونو او ولسواليو کې دې د صنعت او سوداګرۍ وزارت په مشرۍ د مستهلکينو جوړې شوې کمېټې د همدې وزارت له لورې د جوړ شوي لارښود په رڼا کې او په کابل ښار کې دې د کابل ښاروالۍ په مشرۍ جوړه شوې کمېټه د توکو د نرخونو د کنټرول په برخه کې خپل مسووليت په لا جدي ډول ترسره کړي او د فعاليتونو راپورونه دې د تعرفې کمېټې ته وخت پر وخت وړاندې کوي. همدارنګه، د توکو د کيفيت د کنټرول په برخه کې پرېکړه وشــوه، چې د هېواد په سوداګريزو بندرونو کــې دې د عامې روغتيا وزارت د خوړو او درملو معينيت او د وارداتي توکو د کيفيت د کنټرول په برخه کې دې د معيار او کيفيت اداره خپل فعاليتونه لا پياوړي کړي. د دې ترڅنګ دې د تعرفــې کمېټه په هغه صورت کې پــر وارداتي توکو تعرفې زياتې کړي، چې په کور دننه د ورته داخلي توليداتو د کميت د اثبات تر څنګ کيفيت هم پر منل شوو معيارونو برابر وي. دغه راز، د تعرفې کمېټې ته سپارښــتنه وشوه چې په بازارونــو کې د توکو د نرخونو او کيفيت د کنټرول په موخه د اړونــدو کمېټو او خپلــو فعاليتونو راپورونــه وخت پر وخت اقتصادي کمېســيون تــه وړاندې کړي. سربېــره پر دې، اقتصادي کمېسيون پرېکړه وکړه، چې که چېرې يو څوک له ټاکل شــوو نرخونــو او د کيفيت په برخه کې له منل شــوو معيارونو سرغړونه کوي، نو د نافذه قوانينو، اصولو او مقرراتو په رڼا کې دې ورسره چلند وشي.

## د ولايتونو د کټګوريو پر اســـاس د صنعتي پارکونو د ځمکو لپاره قيمتونه وټاکل شول

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرســتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه د ۱۴۰۵ کال د ميزان مياشتې په ۲۱مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه. غونډې ته د ولايتونو د کټګوريو پر اساس د صنعتي پارکونو د ځمکو د قيمتونو ټاکلو په تړاو د ټاکل شوې کمېټې راپور وړاندې او تاييد شو. د راپور پر اساس، د لومړۍ کټګورۍ ولايتونو لپــاره د صنعتي پارکونــو د هر مترمربع ځمکې قيمت ۱۵۰ افغانۍ، د دويمې کټګورۍ ولايتونو لپاره



۱۰۰ افغانۍ او د درېيمې کټګورۍ ولايتونو لپاره ۵۰ افغانۍ وټاکل شو. همداراز، د اقتصادي کمېسيون دې غونډې ته د تعرفې کمېټې د ۱۴۰۴ کال د وروستيو شپږو مياشتو راپور هم وړاندې او تاييد شــو. د راپور له مخــې، د تعرفې کمېټې د ۱۴۰۴ کال په وروســتيو شپږو مياشتو کې د هېواد د داخلي بازارونو د وضعيت له ارزونې وروسته پر هغو وارداتي توکو په تدريج سره تعرفه زياته کړې، چې هغه په کور دننه توليد او د داخلي بازارونو اړتيا پوره کولی شي. اقتصادي کمېســيون د کورنيو توليداتو د ملاتړ، د صنعت د پياوړتيا او ځان بسياينې ته د نږدې کېدو په موخه د تعرفې کمېټې فعاليتونه وستايل او پرېکــړه يې وکړه، چې په بازارونو کې د قيمتونو د کنټرول کمېټه دې هم خپل مسووليت په جدي ډول ترسره او وخت پــر وخت دې راپــور د تعرفې کمېټې لــه لارې اقتصادي کمېسيون ته وړاندې کړي. د غونډې په پای کې د يوشمېر تعقيبي موضوعاتو راپورونه هــم وړاندې او په اړه يې اړوندو ادارو ته لازمې لارښــووڼې وشــوې. پورته پرېکړې د نهايي تصميم نيونې په موخه د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه‌الله تعالی دفتر ته واستول شوې.

## د اړمنو هېوادوالو د لاسنیوي ځانګړې اوونۍ ونمانځل شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ کال د میزان میاشتې په ۲۶مه نېټه د افغاني سرې میاشتې ټولنې له لوري د اړمنو هېوادوالو د لاسنیوي په موخه د ځانګړې اوونۍ د نمانځلو په مناسبت جوړو شوو مراسمو کې ګډون وکړ. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند غونډې ته په وینا کې د افغاني سرې میاشتې ټولنې له مسوولینو مننه وکړه، چې د طبیعي پېښو پرمهال له زیانمن شوو هېوادوالو، هېواد ته د راستنېدونکو افغانانو او د سوري



زړه پر ناروغۍ د اخته ماشومانو سره یې د هغوی د اړتیاوو له مخې په خپل وخت مرستې کړې دي. محترم ملا صاحب د اړمنو هېوادوالو لاسنیوی یوازې د افغاني سرې میاشتې ټولنې مسوولیت ونه باله، بلکې پر ټولو شتمنو هېوادوالو، سوداګرو، پانګوالو، خیریه او نړیوالو بشري بنسټونو یې هم غږ وکړ، چې لــه دې ټولنې سره مرستــې او عملي همـــکارۍ وکړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، ډېرې هېوادوال په هېواد کې د وروســـتیو وچکالیو، موسمي سیلابونو، زلزلو او هېواد ته د زرګونو کورنیو د جبري راستنېدو له امله له سخت اقتصادي او بشري ناورین سره مخ شـــوي او دې ستونزو ته رســـېدنه جدي پاملرنې ته اړتیا لــري. محترم ملا عبدالغني بـــرادر اخوند د ملګرو ملتونو له مرســـتندویه پلاوي (یوناما) وغوښتل چې د افغانستان په اړه د عیني واقعیتونو په پام کې نیولو سره په بـــې طرفه توګه تحلـــیلي راپورونه نشر کړي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، دا عادلانه نه ده چې د یوناما له لوري په نشرېدونکو راپورونو کې د افغانستان اقتصادي او امنیتي لاســـته راوړنې نادیده نیول کېـــږي او د یو مقابل او متخاصم طرف په څېر په منفي ابعادو پسې ګرځي.

## د پېښو د خطرونو کمولو نړیواله ورځ ونمانځل شوه



د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ کال د میزان میاشتې په ۲۱مه نېټه د پېښـــو د خطرونو کمولو نړیوالې ورځې په نمانځغونډه کې ګـــډون وکړ. محترم ملا عبدالغني بـــرادر اخوند په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو کې له هرڅه وړاندې د نړۍ ټولو هغو خلکو او په ځانګړې توګه د افغانســـتان هغو کورنیو ته یوځل بیا د تسلیت او غم شریکۍ مراتب وړاندې کړل، چې د طبیعي پېښو له امله یې د کورنۍ غړي له لاسه ورکړي او مالي او اقتصادي زیانونه ورته رســـیدلي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل چې تېر کال افغانستان د طبیعي پېښـــو او اقلیمي بدلونونو لکه زلزلو، موســـمي سیلابونو او وچکالیو له امله له سخت ټولنیز او اقتصادي زیان سره مخ شـــو او د ملي زېربنا د تخریـــب ترڅنګ یې خلکو ته زیات ځاني او مالي تلفات اړولي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، افغانستان د شنو خونو د ګازونو په خپرولو او د نړیوال اقلیم په تخریب کې هېڅ ونډه نه ده اخیســـتې، خو د نړۍ او په ځانګـــړې توګه د لویو صنعتي او تولیدي هېوادونو د شـــنو خونو ګازونو له خپرولو څخه په مسلسله توګه متضرر شوی. د ریاســـت الوزراء اقتصادي مرستیال وویل: «دا د نړیوال اقلیمي عدالت له اصولو سره هېڅ ســـمون نه خوري چې د ســـتونزې په رامنځته کولو کې ونډه ونـــه لرو، خو درنې او ســـختې پایلې یې وزغمو او د نورو له امله د رامنځته شوي تخریب بیه پرې کړو.» محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له نړیوالې ټولنې، ملګرو ملتونو او اړوندو ټولو اقلیمي بنسټونو وغوښـــتل، چې د اقلیمي بدلونونو پر وړاندې مبارزه باید له هېڅ ډول سیاسي ملاحظاتو سره ونه تړل شي. محترم ملا صاحـــب وویل، اقلیمي بدلونونه ټولو ته ضرر رســـوي او د نړیوال اقلیم ساتنه بې له کومې استثناء د ټولو هېوادونو ګډ مسوولیت دی او ټول هېوادونه ترې متاثره دي. بناً دغه ګډ

مســـوولیت ګډې همکارۍ ته اړتیا لري. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرســـتیال ټینګار وکړ، چې د طبیعي پېښــو او اقلیمي بدلونونــو د زیانونو د کمولو په موخه لازمه ده، چې افغانســتان نړیوالو مــالي او تخنیکي مرســتو ته عادلانه لاسرســي ولري او دا یې حق دی. مــحترم ملا عبدالغني برادر اخوند له نړیوالي ټولني وغوښــتل، چې له افغانستان سره د هوا پېژندنې د عصري وسایلو، له پېښو څخه د وړاندې خبرتیا د سیستمونو، د ژغورنې د پرمختللو تجهیزاتو او د تخنیکــي ظرفیتونو په پیاوړتیا کــې عملي همکاري وکړي. محترم ملا صاحب وویــل، چې اسلامي امارت د طبیعي پېښــو پر وړاندې د مقاومت لرونکو معیاري ودانیو جوړولو، د اوبــو د مهار په برخه کې د معیاري اســتنادي دېوالونو او د ځنګلونو د ساتنې او بیا احیاء په برخه کې د پام وړ هڅې کړې دي او دې ته به په مسلسله توګه دوام ورکــوي. محترم ملا عبدالغني بــرادر اخوند په پای کې د پېښــو پر وړاندې د چمتووالي له عمومــي ادارې، نړیوالو مرستندویه بنسټونو او افغان سوداګرو او پانګوالو مننه وکړه، چې د زیانمن شوو کورنیو لاسنیوی یې کړی او د سرپناه په جوړولو او د اړتیا وړ توکو په برابرولو کې یې ورسره همکاري کړې ده.

## د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې غونډه جوړه شوه

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د ۱۴۰۵ کال د تلې میاشتې په ۱۴مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. غونډې ته د جوزجان ولایت په مرکز شبرغان کې د ښاروالۍ اړوند پر ځمکه د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه وړاندې شــوه. له بحث وروسته ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شــوه چې دا طرحه په هر اړخیز ډول وڅېړي او خپل راپور د پانګونــې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړانــدې کړي. دغه راز، غونډې ته د هلمند ولایت د مرکز لښکرګاه په لومړۍ ناحیه کې د اوبــو او انرژۍ وزارت اړوند پر ځمکه د اســتوګنیز او سوداګریز مرکز جوړولو طرحه د بحث لپاره وړاندې شوه. له بحث وروسته ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه څو دا طرحه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله د حکم مطابق ترتیب او بیا یې د پانګونــې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

## له پېښو سره د مبارزې د چمتووالي اداري لومړیتوبونه له تمویلوونکو او نړیوالو موسسو سره شریک شول

د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي معاونیت د عامه اړیکو ریاست په مشرۍ د ۱۴۰۵ کال د میزان میاشــتې پــه ۲۳مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې د تمویلوونکو، نړیوالو موسسو، ملګرو ملتونو او پراختیایي شریکانو له استازو سره د افغانستان د سکتورۍ ادارو د لومړیتوبونــو شریکولو پنځمه غونډه جوړه شــوه. په غونــډه کې له پېښــو سره د مبــارزې د چمتــووالي اداري لومړیتوبونــه له تمویلوونکو او نړیوالو موسســـو سره شریک شول. دغه لومړیتوبونه د ټول هېواد په کچه د استنادي دېوالونو جوړولو، له پېښو څخه د وړاندې خبرتیا د سیستمونو رامنځته کولو، له ماینونو او چاودېدونکو توکو څخه د ســیمو پاکولو، د پېښو او چاودېدونکو توکو په اړه هېوادوالو ته د عامه پوهاوي ورکولو، د پېښــو پر مهال د لومړنیو مرستو رسولو او همدارنګه د پېښو د مدیریت او یوشمېر نورو برخو اړوند وو. دا لومړیتوبونه د افغانســتان د اقلیمي او موســمي وضعیت پر بنسټ مشخص شــوي، څو راتلونکې مرستې او پراختیایي همکارۍ تر ممکنه حده د همدې لومړیتوبونو په چوکاټ کې تنظیم او همغږې شي. د تمویلوونکو بنســـټونو او نړیوالو موسسو استازو له پېښــو سره د مبارزې د چمتووالي اداري د لومړیتوبونو شریکول خورا مهم وبلل او څرګنده یې کړه، چې په دې سره به دوی وکولای شي خپلې راتلونکې همکارۍ د همغــږو لومړیتوبونو په رڼا کې تنظیــم، د تر ګواښ لاندې افغانانو ژوند خوندي او د پېښو رامنځته کېدو پرمهال زیانمن شوو کسانو ته په وخت مرستې ورسول شي. له تمویلوونکو او نړیوالو موسسو سره د افغانستان اسلامي امارت د سکتورۍ ادارو د لومړیتوبونو شریکول به د هېواد لومړیتوبونه له منابعو، مرستې به له اړتیاوو او پراختیا به له واقعي پایلو سره منظم او همغږې کړي.

## اولویت‌های وزارت زراعت، آبیاری و مالداری با تمویل‌کنندگان و مؤسسات بین‌المللی به اشتراک گذاشته شد

چهارمین نشســت شریک ســاختن اولویت‌هــای ادارات سکتوری افغانســتان بــا نماینــدگان تمویل‌کنندگان، مؤسســات بین‌المللــی، ســازمان ملل متحــد و شرکای انکشافی، به رهبری ریاست روابط عامه معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء، (دوشنبه)، ۲۰ میــزان ۱۴۰۵، در قصر مرمرین برگزار گردید. در این نشســت، اولویت‌های وزارت زراعت، آبیاری و مالداری با تمویل‌کنندگان و مؤسســات بین‌المللی به اشتراک گذاشته شد. این اولویت‌ها در بخش‌های ســاخت و توســعه زیربناهای زراعتی در سطح کشور، میکانیزه‌سازی تحقیقات در سکتور زراعت، حمایت و تقویت معیشت بدیل برای کوکنار و سایر نباتات ممنوعه، بازسازی سیســتم‌های آبیاری، افزایش حاصلات زراعتی، ارائــه خدمات مــالداری و صحت حیوانــی، نګهداری و پروســس محصــولات زراعتی، ارتقای ظرفیت مســلکی دهاقین و شماری دیگر از بخش‌ها مشخص شده‌اند. این اولویت‌ها بر اساس نیازهای واقعی افغانستان تعیین شــده‌اند تا کمک‌ها و همکاری‌های انکشافی آینده تا حد امــکان در چارچوب همین اولویت‌هــا تنظیم و هماهنګ شــوند. نمایندگان نهادهــای تمویل‌کننده و مؤسســات بین‌المللی، شریک‌ســاختن اولویت‌هــای وزارت زراعت، آبیاری و مالداری را بسیار مهم دانسته و اظهار داشتند که از ایــن طریق می‌تواننــد همکاری‌های آینــده خود را با درنظرداشــت همین اولویت‌هــا تنظیم و تطبیــق کنند. شریک‌ســاختن اولویت‌هــای ادارات ســکتوری امارت اسلامی افغانستان با تمویل‌کنندگان و مؤسسات بین‌المللی، به هماهنګی اولویت‌های کشور با منابع، کمک‌ها با نیازها و توسعه با نتایج واقعی کمک خواهد کرد.



# رهنمود سرمایه گذاری

بخش ۷

## فرصت‌های سرمایه‌گذاری در سکتور صحت

افغانستان با داشتن موقعیت جغرافیایی استراتیژیک، منابع طبیعی فراوان و امکانات بالقوه سرمایه‌گذاری، در بخش‌های مختلف فرصت‌های مناسب و خوبی برای سرمایه‌گذاری دارد. یکی از این بخش‌ها، سکتور صحت است. سکتور صحت از جمله سکتورهای بسیار مهم در زمینه حفظ سلامت روانی و فیزیکی انسان‌ها به‌شمار می‌رود. دسترسی به صحت و خدمات صحی در عصر حاضر، از شاخص‌های اساسی برای سنجش کیفیت و معیار زندگی جوامع بشری محسوب می‌شود. توسعه خدمات صحی معیاری و سیستم صحت، از عوامل عمده پیشرفت کشورها است. از همین‌رو، ارائه خدمات و سهولت‌های صحی باکیفیت و مناسب، در صدر اولویت‌های هر کشور جهان قرار دارد.

در افغانستان، فرصت‌های متعدد و مناسبی برای سرمایه‌گذاری در سکتور صحت وجود دارد که مهم‌ترین آن‌ها عبارت‌اند از:

- سرمایه‌گذاری در زیربناهای صحی به‌منظور گسترش خدمات صحی؛
- سرمایه‌گذاری در بخش بهبود و توسعه خدمات صحی؛
- سرمایه‌گذاری در بخش تجهیز مراکز صحی؛
- سرمایه‌گذاری در بخش تحقیقات به‌منظور توسعه دوا و بهبود سیستم‌های صحی؛
- سرمایه‌گذاری در بخش تولید دوا؛
- سرمایه‌گذاری در بخش لابراتوارها و تکنالوژی طبی؛
- سرمایه‌گذاری در مراکز ارائه مشوره‌های روانی؛
- سرمایه‌گذاری در مراکز تشخیصیه، کفتریاها و توقف‌گاه‌های موتر.

تمامی سرمایه‌گذاران می‌توانند طرح‌های خود را به‌منظور سرمایه‌گذاری در این بخش، به کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی تحت چتر معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء ارائه کنند.



# د طبیعي پېښو د زیانونو کمول؛ نړیواله همکاري او اقلیمي عدالت

زاهد خان

طبیعي پېښې د انسانانو ژوند، اقتصادي فعالیتونه او عامه زېربناوې له جدي ګواښونو سره مخ کوي. زلزلې، سېلابونه او وچکالۍ نه یوازې ځاني او مالي زیانونه اړوي، بلکې د هېوادونو د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ بهیر هم اغېزمنوي. افغانستان د اقلیمي بدلونونو او طبیعي پېښو له اغېزو سره مخ هېواد دی چې هر کال یې د خلکو په ژوند، کرنې او اقتصادي سرچینو ناوړه اغېزې پرېوځي. د پېښو د خطرونو کمولو نړیوالې ورځې په مناسبت د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال، محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، د ۱۴۰۵ کال د میزان میاشتې په ۲۱مه نېټه، په جوړو شویو مراسمو کې د طبیعي پېښو د زیانونو د کمولو، د اقلیمي عدالت او له افغانستان سره د نړیوالې همکارۍ پر اړتیا ټینګار وکړ. د محترم ملا صاحب څرګندونې د طبیعي پېښو پر وړاندې د چمتووالي او د هېواد د اقتصادي او ټولنیز ثبات د ساتنې اهمیت څرګندوي.

### اقلیمي بدلونونه او د افغانستان اقتصادي زیانونه

افغانستان په تېرو کلونو کې د زلزلو، موسمي سېلابونو او وچکالیو له امله له ګڼو ځاني او مالي زیانونو سره مخ شوی دی. د کورونو او عامه تأسیساتو ویجاړېدل، د کرنیزو ځمکو تخریب، د اوبو د سرچینو کمښت او د خلکو د عایداتو له لاسه ورکول د دغو پېښو مهمې پایلې دي. دا زیانونه د کورنیو اقتصادي وضعیت

ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY

د اقتصــادي او ټولنيــزو مسايلــو په بــرخه کــې
د رياســت الــوزراء اقتصــادي معاونيت پنځلــس ورځنۍ

اباديِ
پنځلــس ورځنۍ

کمـزوری کـوي او د بیارغونـې لپـاره د پـام وړ مالي سرچینو ته اړتیا رامنځته کوي. د افغانسـتان د اقتصاد یـوه مهمه برخه پر کرنه، مالـداری او طبیعي سرچینو ولاړه ده. له همدې امله وچکالي او د ورښتونو په کچه او وخـت کې بدلون د کرنیزو محصولاتـو او د کلیوالو کورنیو پر معیشـت مسـتقیم اغېز کـوي. همدارنګه، سیلابونه کرنیزې ځمکې، د اوبو لګولو شبکې، پلونه او سـړکونه تخریبوي او د اقتصـادي فعالیتونو د دوام پر وړانـدې خنډونـه رامنځتـه کـوي. د ریاسـت‌الوزراء اقتصادي مرسـتیال څرګنده کړه چې افغانستان د شنو خونـو د ګازونو په خپرولو او د نړیوال اقلیم په تخریب کـې د پام وړ ونـډه نه لري، خو د اقلیمـي بدلونونو له اغېزو زیان وینـي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اقلیمـي عدالت پر اصل ټینګار وکړ. هغه اصل چې له مخې یـې د اقلیمي بدلونونو پر وړانـدې د مبارزې په برخـه کې باید د هېوادونو ونډه، وړتیاوې او اړتیاوې په پام کې ونیـول شي. اقلیمي بدلونونـه د یوه هېواد په پولو کې نه محدودېږي. له همدې امله د نړیوال اقلیم ساتنه ګـډ مسـوولیت او همغږی تـه اړتیا لـري. د ریاسـت‌الوزراء اقتصادي مرستیال له نړیوالې ټولنې، ملګرو ملتونو او اړوندو اقلیمي بنسټونو وغوښتل چې د اقلیمي بدلونونو پر وړاندې مبارزه له سیاسي ملاحظاتو سره ونـه تـړي او افغانسـتان تـه د اړتیـا وړ مالي او تخنیکي مرستو ته عادلانه لاسرسی برابر کړي.

## د پېښــو د خطرونو کمولو هڅې

د طبیعـي پېښـو د زیانونـو کمول یوازې د پېښـې له رامنځتـه کېـدو وروسـته مرسـتو رسـولو تـه نـه محدودېـږي، بلکـې د خطرونو پېژنـدل، د مخنیوي تدابیـر، پر وخت خبرتیا او د ژغورنـې لپاره چمتووالی هـم پکـې شـامل دي. د ریاسـت‌الوزراء اقتصادي مرستیال له نړیوالې ټولنې وغوښتل چې له افغانستان سره د هـوا پېژندنـې د عصري وسـایلو، د پېښـو لـه رامنځته کېدو مخکې د خبرتیا د سیسټمونو، د ژغورنې د پرمختللو تجهیزاتو او د تخنیکي ظرفیتونو د پیاوړتیا په برخو کې عملي همکاري وکړي.

د هـوا پېژندنـې دقیـق معلومـات او د مخکې خبرتیا اغېزناک سیسـتمونه د دې زمینـه برابروي چې خلک په وخت خبر شي او د ځاني او مالي زیانونو د مخنیوي لپاره لازم اقدامات ترسره کړي. همدارنګه، د زلزلو پر وړاندې د مقاومت لرونکو ودانیو جوړول، د سیلابونو مسـیرونو مدیریـت، د معیـاري اسـتنادي دیوالونـو جوړول او د ځنګلونو سـاتنه د طبیعي پېښو د خطرونو پـه کمولـو کـې مهـم رول لـري. د ریاسـت‌الوزراء اقتصـادي مرسـتیال د طبیعـي پېښـو پـر وړاندې د مقاومـت لرونکو معیاري ودانیو جوړولو، د اوبو د مهار لپاره د استنادي دیوالونو جوړولو او د ځنګلونو د ساتنې او بیا احیا په برخو کې د افغانستان اسلامي امارت هڅو ته هم اشـاره وکړه. له بلې خوا، د طبیعي پېښو مدیریت د حکومت تر مسـوولیتونو وراخـوا د خلکو پوهـاوي، د سـیمه‌ییزو ادارو همغږی او د خصوصي سکټور همکارۍ ته هم اړتیا لري. په همدې مناسبت د پېښو پر وړاندې د چمتووالي عمومي اداري، نړیوالو مرسـتندویه بنسـټونو او افغان سـوداګرو او پانګوالو د هڅو سـتاینه وشـوه، چې له زیانمنو کورنیو سره یې د سرېناه او اړینو توکو په برابرولو کې مرسـته کړې ده. د دغو مرسـتو همغـږي او پر وخت رسـول د زیانمنو خلکو د ستونزو په کمولو کې مهم دي.

## پا یــله

د طبیعي پېښــو د خطرونو کمول او هېوادوالو لپاره د ژونـد د خوندیتـوب، اقتصـادي ثبـات او دوامـدار پرمختګ له اساسي اړتیاوو څخه دي. د دې موخې ترلاسـه کـول د مخنیـوي، چمتـووالي او بیارغونې لپاره منظمو اقداماتو او د امکاناتو اغېزناکې کارونې ته اړتیا لري. د ریاسـت‌الوزراء اقتصـادي مرسـتیال څرګندونې د دې موضوع اهمیت روښـانه کوي چې د اقلیمـي بدلونونو پر وړانـدې مبارزه باید د نړیوالې همـکارۍ او عادلانـه مسـوولیتونو پر بنسـټ ولاړه وي. د اسلامـي امارت هڅـې، د عصري ټکنالوژۍ او تخنیکـي ظرفیتونـو پیاوړتیـا او د نړیوالې ټولنې عملي ملاتړ کولی شي د طبیعي پېښـو زیانونه راکم او د هېوادوالـو لپاره د خونـدي او باثباته ژوند زمینه برابره کړي.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابـل په شهزاده سـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ؋۶۴,۹۰ | ؋۶۴,۹۵ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ؋۲۲۹ | ؋۲۳۰ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ؋۰,۲۴ | ؋۰,۲۵ |
| ۱ | اروپایي یورو | ؋۷۲,۸۰ | ؋۷۲,۸۰ |
| ۱ | روسي روبل | ؋۰,۷۸ | ؋۰,۷۸ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ؋۷۲۸ | ؋۷۳۸ |
| ۱ | انګلیسي پوند | ؋۸۵,۴۰ | ؋۸۵,۰۰ |
| ۱ | سعودي ریال | ؋۱۷,۳۰ | ؋۱۷,۳۱ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۷,۶۷ | ؋۱۷,۶۹ |
| ۱ | چیني ین | ؋۹,۷۲ | ؋۹,۷۳ |

